# ځوک چې هوږه یا پیاز وخوري نو ځان دې له موږ څخه جلا کړي - یا یې وفرمایل چې: زموږ له مسجد څخه دې ځان ګوښه کړي او په کور کې دې پاتې شي

له جابر بن عبدالله رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «ځوک چې هوږه یا پیاز وخوري نو ځان دې له موږ څخه جلا کړي - یا یې وفرمایل چې: زموږ له مسجد څخه دې ځان ګوښه کړي او په کور کې دې پاتې شي»، او پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته یو لوښی راوړل شو چې په هغه کې پیاز یا بل ډول شنه سبزیجات و، نو هغه یې بوی حس کړ، نو پوښتنه یې وکړه او ورته وویل شو چې شنه بوی لرونکي سبزیجات پکې دي، نو ویې فرمایل چې د هغه ځینو ملګرو ته یې وړاندې کړئ چې له هغه سره (په سفر کې) وو، نو کله یې چې ولیدل له خوړلو یې کرکه وکړه او ویې ویل: «كُلْ فَإِنِّي أُنَاجِي مَنْ لاَ تُنَاجِي». «وخورئ، ځکه زه له هغه چا سره مناجات کوم چې ته یې نه کوې».

[صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم هر هغه ځوک چې هوږه او یا پیاز وخوري جومات ته له تلو څخه منع کړی دی، تر څو خپل هغه ورونه په بدبوۍ سره ونه ازاروي چې جومات ته د جماعت لپاره راغلي دي، جومات د تللو په اړه دا ممانعت تنزیهي دی، نه دا چې دا خواړه ناروا دي، ځکه چې دا مباح خوراکونه دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوه کټوۍ راوړل شوه چې سبزیجات پکې وو، نو کله یې چې بوی کړل او د هغه څه په اړه خبر ورکړ شو چې په کټوۍ کې دي نو له خوړلو یې انکار وکړ او خپلو نورو ملګرو ته یې د خوړلو لپاره وړاندې کړل، نو هغه هم د ده پسې د اقتدا له مخې له خوړلو کرکه وکړه، نو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیده ویې فرمایل: وخوره؛ ځکه چې زه له ملایکو سره په وحي ملاقات کوم. او رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې ملایکې د بد بوی له امله داسې ازاریږي لکه څنګه چې بنی آدم ازاریږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4850